محمد هارون خپل شعشعی


۱۸ نومبر ۲۰۱۱

## لوی پښتو - انگرېزي قاموس

وړمه ورځ مي په « لر او بر» ویبپانه کي د لوی پښتو - انگرېزي قاموس د آن لاین کېدو خبر ولوستۍ؛ وروسته مي ( مي يي) په یوه چټک نظر، په « قاموسونه ډاټ کام » کي هم ځني برخي وکتلي. د دې قاموس د بېلابېلو اړخو شننه او سپړنه خورا ډېري او اوږدي خبري غواړي، چي دمگړی تر هغو تېرېږم . د زیات تفصیل دپاره گران لوستونکي کولای سي د لاندني لینک په پرانیستلو سره د دې عاجز هغه ماته گوډه لیکنه وگوري، چي « د نوي قاموس لیکني مېتودولوژی ته یوه کتنه » نومېږي؛ او د نوي مېتودولوژی‌په رڼا کي د قاموس لیکني پر اساسي اصولو او قواعدو را گرځي :

http://www.larawbar.com/detail.php?id=20214

د دې پښتو - انگرېزي لوی قاموس په اړه تر ټو لنډو او تلواري خبرو مخکي ضروري او پر ځای گڼم، چي د پښتو ژبي اوپښتني فرهنگ په وده او پرمختیا کي د « قاموسونه ډاټ کام » د علمي او فرهنگي سایټ د چلوونکي - ښاغلي احمدولي اڅکزي او همکارانو د سپېڅلو ملي خدمتو یادونه او قدرداني وکم . ښاغلی اڅکزی د هغو وینو، دردمنو او زیارکښو ځوانانو په ډله کي دئ، چي په نه ستړي کېدونـــکي زیار اوکوښښ سره يي په خپله ویبپانه کي د پښتو ژبي د مېناو او شوقیانو د استفادي دپاره، یو کم شپېته ( ۵۹) پښتو فرهنگونه وړاندي کـــړي دي . پـــه دې ارزښتناک سایټ کـــي د پښتو پر بېلابېـــلو یو ژبیزو او څو ژبیزو قاموسو سربېــــره، دپښتو شعر خــــزانــــه (Pashto Poem Treasure) هم خورا په زړه پوري برخه ده. کــــه چیري د پښتو د لرغـــوني او منځني ادب نـــور منظوم او منثور اثار هم د معتبرو او علماً برابرو سوومُتونو له مخي پر دې ارزښتناکه خزانه ور زیات سي، زما په گومان گټه بې ( به يي) څو چنده زیاته او اَرَته سي . خدای دې د احمدولي جان اڅکزي او نورو زیارکښو همکارانو پر دې پتمن او ملي احساس نور هم برکت کښېږدي، چي د پښتو د نایابو علمي او فرهنگي خزانو د استفادي ورشو لا پسي عامه او پراخه کي . البته، د لوی پښتو - انگرېزي قاموس او

نورو پښتو قاموسو د درنو ليکوالو او مؤلفينو نه ستړي کېدونکي زيار درناوی او کوروداني هم بايد هيڅکله هېر نه کو، چي په وخت سپمولو، خولوتويولو او پيسو ښندلو سره يې د خپلې ملي ژبې د لغوي او علمي زېرمي په بډاينه اوشتمن کولوکي لو( لويه) ونده اخيستي ده .

اما د دې خبرو تر څنګ بايد دا واقعيت هم له ياده ونباسو، چي زموږ زياتره فرهنګونه تر اوسه د فرهنګ ليکني له نوو علمي معيارو او موازينو سره سر نه خوري . ښايي د دې کار سَوَب ( سبب) تر لاندي دوو حالتو دباندي نه يي (وي) :

- په پښتو او دري ژبوکي د دې ارزښتناکي علمي او تحقيقي څانګي د تيوريکو اساساتو په باب د اثارو نسته والی يا لږوالی؛ ځکه لغتپوهنه (lexicology) د قاموس ليکني (lexicography) پر خلاف، ډېره لرغونتيا او سابقه نه لري .
- په فرهنګ ليکنه کي د ليکوالو تلوار او بې پروايي .

زموږ ګران او قدرمن ليکوال بايد په دې خبره ښه سر خلاص کي، چي قاموس ليکنه ځانته بېله پوهه او هونر(هنر) دئ . په بله وينا، د يوه علمي او معياري قاموس د ليکلو دپاره يوازي د ساده ليکوالی يا ژباړي صلاحيت کافي نه دئ . د بېلابېلو فرهنګو و ډول او نوعيت ته په پام سره د يوه علمي او معياري فرهنګ د ليکلو دپاره د ژبپوهني، ګرامر پوهني، لغتپوهني، ريښي پېژندني( ايتيمولوژی) او متن پوهني پر اساساتو سربېره د هغي علمي څانګي وتخصصي يا مسلکي پوهي ته هم جدي اړتيا ليدل کيږي، چي قاموس ليکوونکي يي د لغتو يا اصطلاحاتو په باب قاموسونه کاږي؛ د مثال په توګه که څوک د طب، حقوقو، اقتصاد او داسي نورو علمي څانګو د قاموس ليکلو پرېکړه کيي( کوي)، بايد هرومرو په دې علمي برخو کي ژور او پوره مالومات ولري . په ډېري خواشينی سره بايد و وايو، چي زموږ په زياترو پښتو فرهنګو يا لغتنامو کي د قاموس ليکني د عامو او اساسي اصولو ډېر لږ څرک تر سترګو کيږي . په دې ډله کي ان د هغو کسانو قاموسونه هم شامل دي، چي په ژبپوهنه، ريښه پېژندنه، لغتپوهنه، توکم پوهنه او ځينو نورو علمي څانګو کي ظاهراً د« پوهاندی » او « ډاکتری » درجي لري؛ او له ډېره غروره پر هيچا تن نه ايږدي .

که غواړو، چي علمي او معياري قاموسونه وليکو، بايد قاموس ليکني ته د لغتو د ساده راغونډولو يا ترجمه کولو پر ځای د لوی، څو اړخيز او ارزښتناک علمي - تحقيقي کار په سترګه وګورو . د لوېديځو هيوادو قاموس ليکوونکي په دې برخه کي خورا نوي او په زړه پوري برياوي لري؛ بايد د هغو له تجربو او پرمختګو څخه د خپلي ژبي له اساساتو، ځانګړتياوو او اړتياوو سره سم، اعظمي ګټه واخلو.

## د پښتو- انګرېزي د لوی آن لاين قاموس د ټرانسکريپشن (transcription) په باره کي څو لنډي خبري :

ټرانسکريپشن په هغو قاموسوکي، چي له پښتو يا هري بلي ژبي څخه په انګرېزي يا نورو خارجي ژبو ليکل کيږي، له ډېرو مهمو او اساسي موضوعاتو څخه دئ؛ ځکه د يوې ژبي ټولو ږغو يا اوازو(phonemes) ته په بله ژبه کي معادل توري يا حروف (graphemes) نه موندل کيږي . له دې جهته بايد پښتو ږغونه د داسي تورو او نخښو په مرسته وښوول سي، چي زموږ د ژبي د اصيلو او لرغونو ږغو ريښتيني استازيتوب وکړای سي؛ د مثال په توګه د پښتو الفبي ځيني توري لکه « ځ »، « څ »، « خ »،« ږ»، « ښ »، « غ »او داسي نور په انګرېزي کي معادل توري نه لري . د همدې دليل له مخي، انګرېزي ويوونکي خلګ دا ږغونه د طبيعي او

غريزي عکس العمل پر اساس د خپلي ژبي په نورو نيژدې اوازو اړيي؛ مثلاً« خان » ته « کهان »، « ځان » ته « زان »، « افغانستان » ته « افگانيسټان »، « ښايسته » ته « شايسته »، « غني » ته « گني » وايي . البته د نړۍ نوري ژبي هم له داسي نيمگړتياوو او کمزورييو خالي نه دي، چي پښتوهم د ځينو ړغو د نه لرلو له کبله، په هغوکي شامله ده .

د همدې نيمگړتياوو او کمزورييو د مخنيوي دپاره بايد زموږ قاموس ليکوونکي په انگرېزي يا هره بله پردۍ ژبه د پښتو ژبي د بېلابېلو فونيمو د سمي او دقيقي افادې دپاره له فونيټيکو تورو او نخښو څخه کار واخلي . د فونيټيکو نخښو په مرسته د بېلابېلو ټکو ټرانسکريپشن د مسألي يوازنی علمي او اساسي حل دئ . د پښتو- انگرېزي په اوسني آن لاين لوی قاموس کي د « خ » د ټرانسکريپشن دپاره د انگرېزي ژبي له کي ايچ(**kh**) تورو څخه کار اخيستئ دئ . د « خ » دپاره د دې تورو غوره کول، دوه لوی عيبونه لري :

- اول دا چي کي ايچ (**kh**) توري په هيڅ وجه د پښتود« خ » ږغ معادل نه دي؛ ځکه د فينالوژيکو ارزښتو له مخي بايد د پښتو هر ږغ ته بېل او ځانگړی گرافيم وټاکل سي . يو ږغ بايد هيڅکله د دوو تورو په مرسته ونه ښوول سي . لکه څنگه چي په کيميا کي هر عُنصر ځانته خاصه نخښه (symbol) او اټومي لمبر لري، همدا راز بايد زموږ د ژبي هر اواز يا هره هجا هم په خپله او نورو ژبوکي بېلي او جلا نخښي ولري . لکه څنگه چي مخکي اشاره وسوه، دانگرېزي ژبي کي ايچ (**kh**) توري د« خ » نه، بلکي د« کهـ » ږغ افاده کيي . د انگرېزي الفبې ايس ايچ (**sh**) توري هم د کي ايچ (**kh**) په شان دپښتو د « ښ » ږغ ترجماني نسي کولای .

- دوهم دا چي د « خ » دپاره په انگرېزي کي د کي ايچ (**kh**) تورو ټاکل يوازي د پښتو د شرقي يا ختيځي لهجي د تلفظ استازيتوب کيي، چي د پښتو ژبي په عمومي او معياري قاموس کي راوړل لوتبروتنه گڼله کيږي؛ ځکه په دې ډول ټرانسکريپشن کي د پښتو دلويديځي او مرکزي لهجي پر تلفظ کورټ سترگي پټيږي . ايا پښتو قاموس ليکوونکی دا حق لري، چي د لوېديځي او مرکزي لهجي د ميليونو وگړو له تلفظ څخه انکار وکي؟! پښتو ژبه خو نه شرقي، نه مرکزي او نه غربي لهجه، بلکي له آمو څخه تر اباسينه، له چترال تر هراته د ټولو لهجوي/ لهجه يي وېرينټو يا مغيره حالاتو نه بېلېدونکي مجموعه ده . زما په قاصر نظر خو د « خ » **د انگرېزي ټرانسکريپشن دپاره دکي ايچ (kh) تورو غوره کول له دې دوو حالتو څخه دباندي نه دي :**

- يا دا چي ښاغلی قاموس ليکوونکی د پښتو ژبي د بېلابېلو لهجو په مغيره تلفظو خبر نه دئ، چي دا کار په خپله په قاموس ليکنه کي لو نيمگړتيا او کمزوري بلل کيږي؛ مگرپه قاموس کي د لوېديځي لهجي د ځينو ټکو ثبت او ضبط له ورايه ښيي، چي د تلفظ له مغيره حالاتو سره اشنايي لري .

- يا دا چي د ځينو نورو متعصبو او تنگ نظره لهجه پرستانو په څېر غواړي د پښتو ژبي له نورو لهجو او لهجه يي توپيرو څخه په لوی لاس سترگي پټي کي . « ښايي »، « ښايسته »، « ښاخله » او داسي نور ټکي يوازي د ختيځي لهجي له اوسني تلفظ سره سم د « خايي »، « خايسته »، « خاخله » او داسي نورو په څېر وښيي .

راسئ دا خبره يوه څه نوره هم وشنو؛ ځکه نن سبا د پښتو ادب په لرغونو اثاروکي د بې مفهومه او احساساتي« سوچه پالني » او لهجه يي تنگ نظريو تر کرغېړن سيوري لاندي نه يوازي د شاعرانو او ليکوالو په کلام کي ناروا او غير علمي لاسوهني کيږي، بلکي د خورا ډېرو سپېڅلو پښتو ټکو اصلي بڼي هم اړول سوي او لا تر گرده اړول کيږي .

زمونږ پوهو او باصلاحيته لوستونکو ته مالومه ده، چي« ښ » د « ټ »، « ځ »، « څ »، « ډ»، « ړ »، « ږ »، او« ڼ » په څېر د پښتو له اصيلو او لرغونو تورو څخه دئ . دا توری په « پټه خزانه »کي د راغلو شاعرانو، ليکوالو او پوهانو پر اثارو سربېره د روښانيانو، ختکو او د هغو د معاصرو شاعرانو او ليکوالو په ټولو اثاروکي په خپله اصلي او لرغوني بڼه کار سوئ دئ . د دغو ادبي دورو په ټولو اثاروکي هر ځای « کښېنستل »، « ښکنځل »، « کښېوتل »، « کښېښوول/ کښېښودل » او داسي نور راغلي دي نه « کيناستل »، « کنځل »، « کېوتل »، « کېخودل » او داسي نور. د پښتو د لرغونو خطي نسخو له ليکدود څخه په څرګنده ښکاري، چي زمونږ نيکونو او تېرو پښتونو( نسلو) هر ځای دا رنګه ټکي له « ښ » سره تلفظ کول . په بله وينا« ښ » د دغه راز کليمو(کلمو) د وينګ يا تلفظ نه بېلېدونکي برخه وه . که نه نو روښاني ليکوالو او شاعرانو( بايزيد روښان اورمړ انصاري، ملا ارزاني، ميرزا خان انصاري، علي محمد مخلص، دولت لواني او نورو) يا د سرای اکوړې ختکو( خوشال خان ختک، اشرف خان هجري، قادر خان ختک، افضل خان ختک او نورو) يا تر دوی وروسته شاعرانو او ليکوالو لکه حميد بابا ( تر ۱۱۴۸ هـ ق پوري په باوري توګه ژوندی) او نورو څه مجبوري لرله، چي داسي کليمي يې هر ځای د « څ » پر ځای په « ښ » ليکلي دي؟ ! د پير روښان ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) د عرفاني طريقت خليفه او د پښتو نوميالي عرفاني شاعر - دولت لواني ( تر ۱۰۶۹ هـ ق کال پوري په يقيني توګه ژوندی) خو حتا د خپل ديوان په يوه بيت کي د پښتو سپېځلي توري د پير روښان ايجاد او هستونه ګڼلې ده :

افغاني لفظ مشکل و، لوست، کوېښ نه شه

ورته وشوه کننده ديارلس حرفونه

( وګورئ : پوهاند عبدالشکور رشاد، « د خيرالبيان ليکدود ، » <u>خير البيان د بايزيد روښان</u>، کابل : د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۳ . ۶۳ مخ .)

اوس نوکه چيري پير روښان « ښايي »،« ښخ »، « ښاخله »، « ښور » او داسي نوري کليمي د « خايي »، « خخ »، « خاخله »، « خور » او داسي نورو په شان ويلای، بيا نو د دي ضرورت او اړتيا څه وه، چي د دولت لواني په وينا يې د پښتو ژبي د ديرلسو/ ديارلسو تورو په ډله کي « ښ » توری هم وضعه کاوه؟!

د همدې استدلال له مخي« کيناستل »، « کنځا/ کنځل »، « کېوتل »، « کېخودل » او داسي نور د پښتو تلفظ او ليکلو له له وروستيېو بدلونو څخه ګڼل کيږي، چي اوږده سابقه نه لري . په بله وينا، زمونږ پخوانو نسلو د « ځ »، « څ » ، « ږ » « ښ » او « ڼ » په وينګ کي هيڅکله هغه سختي اوپېچومه نه لرله، چي د پښتو د ختيځي لهجي اوسني ويونکي ور سره مخامخ دي . د دي پېچومي او ناچارۍ له مخي اوس په دغه لهجه کي د هغو کليموله تلفظ څخه د « ښ » توری بېخي ايسته غورځول کيږي، چي په جوړښت کي « ک » او « ښ » څنګ پر څنګ راغلي يي؛ لکه «کښېناستل »، « ښکنځل »، «کښېښوول/ کښېښودل » ، «کښېښودل » او داسي نور . کله کله بياد همدې مُشکل او ګرانۍ له مخي، په بېلابېلو ټکو کي دغه راز توري له خپلو اصلي ځايو څخه شا يا مخ ته اړول کيږي (metathesis) لکه « خکل » چي د «کښل » او « غږ » چي د « ږغ » مقلوبه يا اړول سوي شکلونه دي . په دغه راز فيالوژيکو بدلونوکي د بېلابېلو طبيعي او غير طبيعي ( سياسي، اجتماعي، کولتوري، اقتصادي او داسي نورو) عواملو لوی لاس پروت دئ . له بده مرغه په موږ کي ځيني کسان په بې عقلی او سرټمبګی سره کوښښ کيي، چي د پښتو ادب په بېلابېلو اثاروکي د تحريفاتو او لاسوهنو له لاري د پښتو ليکدود دا روښانه واقعيتونه پټ کي . په همدې ختيځه لهجه کي له ځينو ځينو څخه د اوردو او انګرېزي ژبو راج او تاراج داسي لار ورکه کړې ده، چي د « څ » او « ښ » په استعمال کي له لويو تېروتنو او ګډوډيو سره مخامخ دي .

آ بله ورځ مي د « لوځړي » په نامه د ښاغلي اشرف مفتون هغه شعري مجموعه لوستله، چي د پېښور يونيورسيټي بوک ايجنسی، په ۱۹۷۹ع کال کي چاپ کړې ده . ښاغلي مفتون د دې شعري مجموعې په دريم مخ کي د« تړون » تر عنوان لاندي داسي کښلي دي :

« د خپل ګران ځوی زرک جان په نوم د چا دمخه چه ترېښ ژوند په ما خوږ لګي . مفتون »

زه د ښاغلي مفتون د تړون(؟) له نورو خبرو سره هيڅ اړه او مانده نه لرم . وهغه څه ته، چي غواړم دګرانو لوستونکو پام واړوم، د « ترېخ » ټکی دئ، چي جناب مفتون يې د « ښ » په کارولو سره کاږلي . له دې ښخه داسي ښکاري، چي د پښتو د ختيځي لهجې ويوونکي له يوې خوا په غلطی او تېروتني سره « پښتون » ، « پښتونخوا» او داسي نوري کليمې د « پختون »، « پختونخواه » اوداسي نورو په بڼه کاږي؛ او له بلي خوا بيا ځيني « خ » لرونکي کليمې د « خ » پر ځای په « ښ » ليکي . که د ختيځي لهجې ځيني ويوونکي « پښتون »، « پښتونخوا» او داسي نور ټکي د« پختون » ، « پختونخواه » او داسي نورو په بڼه وايي يا ليکي، په دې کار سره خو يې په واقعيت کي د خپل اوسني سيمه ييز تلفظ پيروي کړې ده، چي څه نا څه توجيه لرلای سي، که څه هم د پښتو هغه لرغونی او سپېڅلی ليکدود يې له پامه غورځولئ دئ، چي تر اوسه د لوېديځي لهجې د ميليونو وګړو په خبروکي ژوندئ دئ؛ خو دې کار ته به څه دليل او منطق تراشي، چي « ترېخ » غوندي ټکي د « خ » پر ځای په « ښ » کاږي؟! ځکه دا ټکی خو زما له مالوماتو سره سم هيڅ پښتون په « ښ » نه وايي؛ کي وايي هم د تأمل او اريانی وړ خبره ده .

خير، نن سبا که څوک د « کښېنستل »، « ښکنځل »، « کښېوتل »، « کښېښوول/ کښېښودل »،« پښتون » او داسي نورو ټکو پر ځای « کيناستل »، « کنځا/ کنځل »، « کېوتل »، « کېخودل » او « پختون » وايي يا ليکي دا د دوی اړتيا او مجبوري ده؛ هيڅوک يې بايد مخنيوی ونکي؛. خو د دې تر څنګ هيڅوک دا حق هم بايد ونه لري، چي داسي ناسمو، نيمګړو، او منحرفو تلفظو او املاوو ته په ټوله پښتوکي معياري بڼه ورکي؛ ځکه په دغه راز تلفظو او املاووکي زموږ د ژبي لرغوني او سپېڅلي ږغونه ( ځ، څ، ژ، ږ، ښ) په بشپړه يا جزيي توګه له منځه تللي دي . د ژبي محدودول او ورانول خو ښاخونه او لکی نه لري . همدا يې يولوی او روښانه مثال دئ .

نوميالي انګرېز افغان پېژندونکي- مېجر هنري جورج راورټي (۱۸۲۵ - ۱۹۰۶ع) څه دپاسه يوسلو پينځوس کاله دمخه، په ۱۸۶۰ع کال، په خپل پښتو - انګرېزي قاموس کي د پښتو ژبي د دوو لويو لهجو ( لوېديځي او ختيځي لهجې) تلفظونه ثبت کړي دي؛ ځکه هغه د يوه سترګه ور پلټونکي او مدقق څېړونکي په توګه د پښتو ژبي دا ژوري او اساسي باريکی له پامه نسوای غورځولای؛ خو زموږ نني قاموس ليکوونکي تر راورټي يونيم سل کاله وروسته هم په دې خبره يا نه پوهېږي يا ځان نه پوه کيي، چي د پښتو ژبي په بېلابېلو لهجو کي بايد له مُغيره تلفظو او املاوو سره څه چال چلند وسي؟! ( وګورئ د جګړن هـ . ج . راورټي پښتو - انګرېزي قاموس :

Henry George Raverty, <u>A Dictionary of the Puk'hto, Pushto, or Language of the Afghans</u>. London: Longman & Co., 1860.)

په « خ » باندي د « ښ » اړول نه يوازي د ميليونو پښتنو له لرغوني او اصيل تلفظ څخه په سپينه ورځ سترګي پټول دي، بلکي په ليکنوکي نور مانوي ( معنوي) ګړاونه او التباسونه هم منځ ته راوړي، چي د يو و نيم مثالو يادونه يې دلته بې ګټي نه ده :

ښور/ṣor/ په مجهول يا اوږده واو: د ښورول له مصدر څخه د ښورولو، خوځولو، حرکت ورکولو په مانا.

شور/šor/ په مجهول یا اوږده واو: د ږوږ، نارو، چغو/ چیغو، غالمغال، فتني، پسات (فساد)، اږودوږ ، جګړې، ولولې، جذبې او داسې نورو په مانا.

خور/xor/ په مجهول یا اوږده واو : د خورَوَل له مصدر څخه د خپرولو/ خَورولو، پاشلواو تیتولو په مانا.

خور/xor/ په مجهول یا اوږده واو : د پلار لور، په پارسي کي خواهر. خوندي/ خویندي جمع .

ښندل/ṣəndә́l/ چاته بخښل، چاته ورکول یا هبه کول او داسې نور.

شندل /šəndә́l/  شپندل، پاشل، خپرول/ خورَوَل، تیتول/تتول .

**شندل** /šəndә́l/  په لوېدیځه لهجه کي د بولو یا متیازو په مانا .

**خندل** / xəndә́l/ مسېدل، خندا کول، خوښي او خوشالي کول، په چا دږی او ملنډي وهل .

اوښ/Ūṣ/ په معروف، څرګند یا لنډ واو: باروړنکی حیوان .

اوخ /Ūx/ په معروف، څرګند یا لنډ واو: افسوس، ارمان، ویش و واخ ، د درد او تکلیف پر مهال ږغ ( د ږغ یا صوت اسم) .

پورتني مثالونه له ورایه ښیي، چي د « ښ »، « ش » او « خ » په اوښتو او بدلېدو سره د کلیمو په ماناووکي لوی او ستر بدلونونه راځي . له دې وجې یې باید تل له ګډوډولو او یو په بل الیشولو څخه په کلکه ډډه وکو. بېله شکه، د پښتو د ځینو سپیڅلو ږغو په وینګ کي د ختیځي لهجې مشکل پر دې ځای نه ختمیږي . په ختیځه او مرکزي لهجه کي د « ځ »، « څ »، « ژ » او « ږ » ږغونه هم په کُلي یا جزیي توګه له منځه تللي دي؛ د مثال په توګه « ځوان »، « ځیني »، « ځورَوَل »، « ځنګل » او داسي نوري کلیمې د « زوان »، « زیني »، « زورَوَل »، « زنګل » او داسي نورو په بڼه ویلي کیږي . « ژبه »، « ژرنده »، « ژوبل »، « ژور »او داسي نور ټکي په « جبه »، « جرنده »، « جوبل »، « جَوَر» او داسي نورو اړول سوي دي . « څانګه »، « کوڅه »، « پاڅون »، « څوک »، « څو»، « څه » او داسي نور ټکي له یوه مخه د « سانګه »، « کوسه »، « پاسون »، « سوک »، « سو»، « سه » او داسي نورو په شکل ویل کیږي . « ږلی/ ژلی »، « ږیره » ، « زموږ »،« کوږ »او داسي نور ټکي ګرده د« ګ » په ږغ ویل کیږي، چي په هیڅ وجه له « ږ » سره سمون نه لري . زموږ پوهو او هوښیارو لوستونکو ته د « ښخ » او « خخ »، « مږ » او « مګ »، « کوږ » او « کوګ »، « ږیره » او « ګیره » تر منځ توپیرونه له ورایه څرګند دي . که څوک په دې لویو او ژورو توپیرو نه پوهیږي، نو د پښتو د لوېدیځي لهجې د یوه ویوونکي خبري دي واوري، بیا یې په ډېري اسانی په دې روښانه حقیقت سد رسیږي، چي د « ځ » او « ز »، « څ » او « س »، « ښ » او « خ »، « ږ » او « ګ » تر منځ څونه لوی توپیرونه دي .

د افغانستان د علومو اکاډیمی په فونیټکه الفبي کي له څو دېرشو کالو راهیسي د « ښ » دپاره تر انګرېزي ایس لاندي یو ټکی لرونکي نخښه (**ṣ**) منل سوي ده. دا نخښه باید هیڅکله د شین (**š**) او خ (**x**) له نخښو سره مغالطه نه کړل سي . البته، ژبپوهان او نور اړوند ماهران کولای سي، د دې نخښي پر ځای بل راز نخښه وټاکي؛ خو هره غوره سوي نخښه باید هرومرو د « ش » او « خ » له نخښو څخه بشپړ بېلوالی او جلاوالی ولري . که څوک د اړتیا له مخي غواړي په ختیځه لهجه کي د « ښ » ټرانسکریپشن وښیي،کولای سي د د ي مقصد دپاره د فونیټکي الفبي له ایکس (**x**) توري څخه کار واخلي نه د انګرېزي الفبي له کي ایچ (**kh**) تورو څخه، چي په دقیقه توګه د « خ » ږغ نسي بیانولای .

په قاموسو کې دکليمو د ټرانسکرېپشن په اړه تر ټولو اساسي او مهمه خبره دا ده، چې قاموس ليکوونکي بايد تر هر څه مخکې په ژبه کې منلى معياري تلفظ ثبت کې؛ مثلاً « ژبه »، « ژرنده»، « ژوبل »، « ښاخ »، « ښايسته »، « کښېناستل » او داسي نور د پښتو معياري تلفظونه او املاوي دي . قاموس ليکوونکي بايد په داسي حالاتو کې د پښتو ژبې په عامو او معياري قاموسوکي هيڅکله زبه ( مرکزي لهجه) يا جبه ( ختيځه لهجه)، زوبل( مرکزي لهجه) يا جوبل ( ختيځه لهجه)، خاخ ( ختيځه لهجه) ، خايسته/ خايشته/خښته ( ختيځه لهجه) او کيناستل( مرکزي او ختيځه لهجه) ثبت نه کې؛ ځکه په دغه راز تلفظو او املاوو کې د پښتو ژبې اصالت ته زيان رسيږي . البته د لهجوي/ لهجه يي قاموس مسأله له دې اصله مستثنأ ده .که معياري تلفظ يا ليکدود نه ؤ، بيا نود ژبې په بېلابېلو لهجو، په تېره بيا دوو لويو لهجو ( لوېديځي او ختيځي لهجی) کي بايد دکښنګ او وينګ ( ليکدود او تلفظ) د ټولو مغيره حالتو(variants) يادونه له ياده ونه ايستل سي . بايد په روښانه ټکو و وايو، چې پښتو ژبه لا تر اوسه د کښنګ او وينګ په ټولو حالاتوکي منلى معيارنه لري . دا معيار د څو کسانو په فرمان او فتوا هم منځ ته هم نسي راتلای . په پښتوکي د يوه منلي معيار را منځ کول، د پښتنو په سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي يووالي او پرمختګ پوري اړه لري . هر څونه چې پښتنانه د ټولنيز ژوندانه په بېلابېلو برخو کي نيژدې او ټينګ اړېکي ولري، په هغونه اندازه دپښتو د معياري کېدو بهير چټکتيا مومي . تر هغه مهاله، چې دې پړاو ته رسېږو، بايد په بېلابېلو لهجو کي مغيره حالتونه له پامه و نه غورځوو. له دې سره جوخت بايد دي روښانه حقيقت ته ټينګ متوجه اوسو، چې ديوې خاصي لهجي پر تلفظ او ليکدود تکيه کول د قاموسو د جامعيت او معياري توب مخه نيسي . پښتو قاموس ليکوونکي بايد په خپلو قاموسوکي د ټولو پښتنو ځانګړتياوي او اړتياوي دقيقاً په پام کي ونيسي . هغه قاموس ليکوونکی ،چې حق او نا حق يوازي د خپلي لهجي پر تلفظ او ليکدود ټينګارکيي، په واقعيت کي د جهالت يا تعصب په ناروغی اخته دئ . دا دواړي ناجوړی اوانحرافونه پښتو ژبې او پښتون قام ته لوی زيانونه رسيي . که څوک غواړي علمي او معياري قاموس وليکي او له پښتو ژبې او پښتون قام سره مينه ولري، بايد تل کوښښ وکي، چې د جامعيت او بشپړتيا خوا ټينګه کيي،که نه نو قاموس بې نه په ټولو پښتنو، بلکي د پښتوپه يوې خاصي لهجي پوري تړلئ يي؛ او د همدې دليل له مخي به هيڅکله د يوه معياري فرهنګ په سترګه نسي ور ته کتل کيږي .

د پښتو ټکو د سم او دقيق ټرانسکرېپشن په کار کي بله مهمه او اساسي مسأله د خج يا فشار(accent/stress) ښوول دي؛ ځکه د پښتو په بېلابېلو لهجو کي کليمي د مختلفو هجاوو په فشار ويلي کيږي؛ د مثال په توګه « وړانګه »، « جګړه »، « دنده »، « بولګه » او داسي نور هغه ټکي دي، چې په لوېديځه لهجه کي د دوهمي څپې په فشار ويل کيږي . دې ډول کليمو ته د ژبپوهني په اصطلاح اکسي ټون (oxytone) ټکي ويل کيږي . قاموس ليکوونکي بايد د دغه راز ټکوپه انګرېزي ټرانسکرېپشن کي د خج موقعيت يا ځای ځايګی په روښانه ډول څرګند کي . په لوېديځه لهجه کي د داسي کليمو د جمعي حالتونه همېشه په مجهوله يا اورده « ې » ويل او ليکل کيږي لکه : وړانګې، جګړې، دندې، بولګې او داسي نور؛ حال دا چي په ختيځه او مرکزي لهجه کي دا او داسي نوري کليمي د لومړئ څپې په فشار ويلي کيږي . دا ډول کليمي د ژبپوهني په اصطلاح د پراکسي ټون (paroxytone) ټکو په نامه ياديږي . په ختيځه لهجه کي د دغه راز ټکو د جمعي حالتونه ټول په معروفه، څرګنده يا لنډه « ي » ويل او ليکل کيږي لکه : وړانګي، جَګړي، دندي، بېلګي او داسي نور . متأسفانه د افغانستان د علومو اکاډيمی په پښتو - پښتو تشريحي قاموس کي هم، چې د پښتو تر ټولو مفصل، مشرح او علمي قاموس دئ، دغه راز باريکيو او ظرافتو ته چندان پام نه دئ سوئ، نبخه چي ځينو ليکوالو يې د پښتود بېلابېلو

لهجو د مُغیره تلفظو په پوهېدو سر نه ۋ خورږ کړئ، کي د تعصب او تنګ نظرئ له مخي په لوئ لاس له واقعیتو څخه سترګي پټي کړي دي؟ خیر، پښتو قاموس لیکوونکي باید د خپلي ژبي په هر قاموس کي د داسي کلیمو مُغیره تلفظونه خامخا ثبت کي، که نه نو ژبه له عمومیت، جامعیت او معیاري توب څخه را ګرځي؛ او په یوه ځانګړې لهجه پوري محدودیږي . بېله شکه، د پښتو قاموس لیکوونکي مسوولیت او رسالت پر دې ځای نه ختمیږي . باید د اسمو یا نومو هغه بې قاعدې مفرد او جمع حالتونه هم په پوره دقت او زغم سره را ټول او ثبت کي، چي د پښتو په بېلابېلو لهجوکي مختلفي بڼي لري؛ لکه په دغو مثالوکي :

آس : اسان جمع ( لوېدیځه لهجه )

آس : اسونه جمع ( ختیځه لهجه)

بوټ ( په مجهول یا اوږده واو) : بوټونه جمع ( لوېدیځه لهجه)

بوټ ( په معروف یا څرګند واو) : بوټان جمع ( ختیځه لهجه)

خولئ (خج یا فشار پر وروستي سپوڼ) : خولۍ، کله کله خولیاني جمع ( لوېدیځه لهجه)

خوله (خج یا فشار پر اول سپوڼ): خولي جمع ( ختیځه لهجه)

نجلئ/ اینجلئ/ انجلئ: نجوني جمع ( لوېدیځه لهجه)

جنئ/ جینئ، جنکئ : جنکیاني/ جینکیاني، جونه جمع ( ختیځه لهجه)

داسي مغیره حالات او موارد خورا زیات دي، چي د پښتو قاموسو مؤلفین باید په ډېر ځیر او تعمق سره پام پر وکي . هر مفرد او جمع حالت جلا جلا له سم او علمي ټرانسکریپشن سره ثبت کي . که نه نو قاموس بیا هم د یوې عامي او معیاري پښتو پر ځای د لهجه یي قاموس خواته بنوییږي؛ او خپل عام او معیاري ارزښت له لاسه ورکیي.
د پښتو- انګرېزي په دې آن لاین سوي لوی قاموس کي د « ښ »، « ځ » او « و» د ټرانسکریپشن دپاره غوره سوي توري هم سم نه دي .
په پای کي یو پلا بیا د یادوني وړ بولم، چي دا لیکنه یوازي د دې قاموس د ټرانسکریپشن د مسألي په باره کي زما د اندېښني او ماتو ګوډو نظریو بیان دئ، نه د دې ارزښتناک کتاب په اړه هر اړخیزه کره کتنه ، چي دمګړی یې د لیکني وخت نه لرم .
ښاغلي احمدولي اڅکزي ژمنه وکړه، چي د پښتو - انګرېزي - فرانسوي په هغه تر ټولو لوی درې ژبیز قاموس کي به زما( هارون خپل) په مخکي یاد سوي کتابګوټي کي بیان سوو اصولو او باریکیو ته پوره پام کیي، چي همدا اوس یې د لیکلو او ژباړلو چاري پر مخ رواني دي .
وروستئ خبره : په قاموسونه ډاټ کام کي د ځینو معاذیرو له مخي د دې لوی پښتو- انګرېزي قاموس لیکوال نه دئ ښوول سوئ . له دې امله یې ما هم د نامه یادونه نه ده کړې .